DAILY اراده

د افغان نشراتي مرکز ملي خپلواکه ورځپانه

۷۹۱

سال تاسیس ۱۳۷۹ هـ. ل

لسم کال - دویمه دوره، ۷۹۱ مه گڼه، پر له پسې ۱۸۵۸ گڼه د ۱۳۸۹ ل ـ د غبرګولي ۱۰ مه - د دوشنبې ورځ، د ۱۴۳۱ هـ ق د جمادي الثاني ۱۷ مه ۲۰۱۰ د مې ۳۱ مه

PROPERTY OF ACKU

AFGHAN MEDIA RESOURCE CENTER A.M.R.C

زورواکي جنایتکاران به څنګه او څوک د ټاکنو له نوملړه وباسي؟

د افغانستان د اساسي قانون له مخې پر بشري ضد کړنو، جنایتونو تورن شوي او یا د محکمې له لوري له مدني حقونو څخه بې برخې شوي او تر پینځه ویشت کاله کم عمره افغانان نه شي کولای، چې د ولسي جرګې ټاکنو ته ځان و نومويـ. د افغانستان د ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون وایي د ټاکنو د بهیر د لا روانوالي او د قانون د ښه پلي کېدا لپاره لا له وړاندې یوې خانګړې کومیټې ته دنده ورکړل شوې، چې له ناقانونه وسلوالو ډلو سره د یو شمیر نوماندانو د احتمالي تړاو او اړیکو په اړه ارزونې او پلټنې وکړي. ۳مـــخ

برګ مټال به بېرته ونیول شي او که به د واک بایللو پیلامه وګرځي

د افغانستان د کورنیو چارو وزارت وایي، چې هڅه کوي د نورستان د برګ مټال ولسوالي، چې اوس مهال د وسلوالو مخالفانو په لاس ده، ډېر ژر بېرته ونیسي. افغان امنیتي چارواکو د شنبې پر ورځ په برګ مټال ولسوالۍ کې شتو پولیسو ته امر وکړ، چې د زیاتې مرګ ژوبلې د مخنیوي لپاره دې تکتیکي په شاتګ وکړي.

د نورستان له برګ مټال ولسوالۍ څخه د پولیسو تر په شاتګ وروسته د کورنیو چارو وزارت غواړي، چې دا ولسوالي د یو منظم پلان له مخې ژر تر ژره بېرته ونیسي.

د برګ مټال ولسوالۍ تر څو ورځو سختو جګړو وروسته د شنبې پر ورځ د وسلوالو مخالفانو لاس ته، چې د چارواکو په وینا زیاتره یې پاکستاني طالبان دي پرې وتله.

د کورنیو چارو د وزارت ویاند زمري بشري د یکشنبې پر ورځ په کابل کې یوې خبري غونډې ته وویل، چې په ګاونډ کې پرتو ولایتونو ته د وسلوالو د نفوذ د مخنیوي لپاره دوی غواړي، چې له نورو ځواکونو سره په ګډه دا ولسوالي ژر بېرته ونیسي: ((د کورنیو چارو وزارت، چې په کوم پلان کار کوي او کوم وړاندیزونه لري، هغه په دې ډول دي، چې د ملي اردو ځواکونه له ملي پولیسو سره یو ځای باید دې ولسوالۍ ته بېرته ننوځي، دا پلان ژر د بشپړ ېدو په حال کې دی، زمونږ هدف دادی، چې مونږ باید ډېر ژر هلته بیا حضور پیدا کړو او دښمن دا مجال پیدا نه کړي، چې د نورستان ګاونډ ولایتونو ته نفوذ وکړي.))

د ښاغلي بشري په وینا د برګ مټال ولسوالي تراوسه پورې یوازې د ملي پولیسو له خوا ساتل کېدله ۳مـــخ

جنرال مکریستل:

داسې کړه شوهد شته، چې ایران په خپله خاوره کې د افغان دولت مخالفان روزي



په افغانستان کې دناټو او امریکایي ځواکونو قوماندان جنرال ستېنلي مکریستل یو ځل بیا پر ایران تور پورې کړ، چې افغان مخالفان په خپل هېواد کې روزي او وسلې ورکوي.

ښاغلي مکرستل، چې په افغانستان کې یې دناټو له ملکي استازي مارک سیډویل سره ګډې خبري ناستې ته وینا کوله وویل دوی په دې اړه پاخه او کره لاسوندونه لري: ((ایران د افغانستان ګاونډی دی، طبیعي ده چې د نورو ګاونډیانو په ځېر ایران هم په افغانستان کې خپلې ګټې لري.

دغه هېواد په یو شمېر برخو کې له اورپکو سره مرستې کوي، داسې کړه شواهد شته چې په دې برخه کې د ایران فعالیت ښیي. ایران په خپله خاوره کې طالبان روزي، دغه راز مونږ لیدلي چې له دغه هېواد څخه افغانستان ته وسلې هم راځي. مونږ اوس د ایران د دغو فعالیتونو د محدودولو په برخه کې کار کوو او هڅه مو داده، چې په راتلونکې کې یې مخه و نیسو.))

دغه راز ښاغلي مکریستل د هلمند د مارجې او نادعلي عملیاتو ته اشاره وکړه او هغه یې خورا بریالي وبلل او زیاته یې کړه د دوی هر پوځي ګام په افغانستان کې د سولې لپاره اخیستل کېږي.

تر دې وړاندې هم د امریکا یو شمېر لوړپوړیو چارواکو ایران په افغانستان کې داورپکو په ملاتړ تورن کړی و، خو ایران دغه تورونه رد کړي دي.

ښاغلي کریستل او سیډویل دواړو د افغانستان د سولې د مشورتي جرګې له وسلوالو مخالفانو سره د سولې د خبرو اترو ښه پیل وبالله.

مارک سیډویل د یکشنبې ۳مـــخ

کاونټرپارټ نړیوالې اداړې "ټاکنو ته د ښځو لاسرسی" یو ورځنی ورکشاپ جوړ کړ

اراده، کابل - کاونټرپارټ نړیوالې اداړې د غبرګولي پر شپږمه نېټه په کابل کې یو ورځنی روزنیز ورکشاپ جوړ کړ. په دغه روزنیز ورکشاپ کې ټاکنو ته د ښځو د لاسرسي او نړیوالو ځارونکو په هکله خبرې او بحث وشو.

په ورکشاپ کې د پارلمان، ښځو چارو وزارت، د ټاکنو کمیسیون، د بشر د حقونو د کمیسیون او یو شمېر نورو دولتي او نادولتي بنسټونو او مدني ټولنو استازو ګډون کړی و.

د ورکشاپ ګډونوالو په را روانو ټاکنو کې د ښځو د رول او د ټاکنو په بهیر کې د ښځو پر وندې هر اړخیزې خبرې وکړې. دوی په را روانو ټاکنو کې د ښځو وندې ارزښتناکه وبلله او په همدې موخه یې ټاکنو ته د ښځو د لاسرسي په لارو چارو خبرې وکړې.

د ټاکنو پر ارزښت د مېرمنو پوهول، په ټاکنو کې د مېرمنو وندې ته پام او په دې برخه کې د مناسبو لارو چارو ښودل د دغه ورکشاپ مهمې موخې وې. د ورکشاپ ګډونوالو خلکو ته د عامه پوهاوي په ورکولو هم او په ټاکنو کې وندې اخیستلو ته د هغوی په هڅولو ټینګار وکړ.

د دغه ورکشاپ یوې ګډونوالې او د ولسي جرګې نوماندې اغلې ملالۍ ساپۍ توحید د ورکشاپ په اړه وویل: "دغه ورکشاپ د دې لپاره جوړ شوی، چې مونږ د ښځو د اساسي حقونو په هکله وپوهېږو، پر حکومت، دولت او همدا شان د ټاکنو د بهیر پر مسایلو پوه شو او خلکو ته یو ذهنیت ورکړو. دا او ورته نور ورکشاپونه ډېر اغېزمن دي او اغېزمنتیا یې داده چې هغو ښځو ته چې د نوماندۍ وړتیا یې درلوده د ځانونو د نومولو اسانتیا برابره کړه. همدارنګه دا عامه پوهاوي دا وړ غوندې کړ، چې هغه مخامخ وي او که د رسنیو له لارې خلکو ته د سیاست، حق، پارلمان، دولت، جرګې او نورو مسایلو په هکله پوره معلومات ورکوي. ټاکنې او ولایتي شورا پېژني. که چېرې دغه تکړه ښځینه روزونکې ټولنې ته دا مسایل ورسوي او ورته تشریح یې کړي، نو دا به د کورنیو د پوهاوي کچه لوړه، د ټاکنو ارزښت به روښانه او په ټاکنو کې د مېرمنو او نارینه وو وندې به پراخه او زیاته کړي."

همدارنګه په ورکشاپ کې د ټاکنو د بهیر او ټاکنیزو حوزو په اړه معلومات ورکړل شول او هغه لارې چارې هم په ګوته شوې، چې اوسنیو ټاکنو ته یې زمینه برابره کړې ده. په دې برخو کې پر کورنیو زمینو، لکه بن ټرون، اساسي قانون، د ټاکنو قانون او رسنیو او په بهرنیو زمینو کې د بهرنیو مرسته کوونکو هېوادونو پر ملاتړ خبرې وشوې.

په ورکشاپ کې ښځو ته د مدافع ډلو او نماینده ګیو په جوړولو ټینګار وشو، څو د ښځو له حقونو څخه دفاع وکړي. د ورکشاپ ګډونوالو ښځو هم خپلې اړوندې ستونزې مطرح کړې. دوی په عمومي توګه په ختیځو ټولنو په تېره بیا په افغاني ټولنه کې د ښځو ازادي سمبولیکه وبلله او په هره برخه او چاره کې یې د ښځو حقونو ته په پام د هغوی پر وندې ټینګار وکړ. دوی ویل په دې برخه کې باید سالمه مبارزه وشي او د ښځو پر وړاندې شته تبعیض له منځه یوسي.

همدارنګه د ورکشاپ ګډونوالو د ښځو ستونزو او حقونو ته په پام سره د هېواد په قوانینو او پالیسیو کې د اساسي بدلونونو د راوړلو غوښتنه وکړه.

د ورکشاپ ګډونوالو د ښځو شته مالي ستونزې هم یادې کړې او د هغو د له منځه وړلو په موخه یې د مالي اسانتیاوو او سرچینو د برابرولو سپارښتنه وکړه. دوی د ښځو په اړه د ناسم ذهنیت په هکله هم بحث وکړ او دغه ذهنیت په ټاکنوکې د ګډون په لاره کې یو لوی خنډ وبالله. د دې تر څنګ په دې ورکشاپ کې د ټاکنیزو بهیرونو پر ساحو هم رڼا واچول شوه، ټاکنیزو بهیرونو ته د لاسرسي پر فرصتونو هم خبرې وشوې او د دې ترڅنګ د رایې ورکولو پر اهمیت هم بحث وشو.

همدارنګه د ټاکنو د څارنې پر اصولو او موخو هم خبرې وشوې او په دې برخه کې د ملي او نړیوالو څارونکو رول ګټور وبلل شو. دوی هیله څرګنده کړه چې د مېرمنو او مدني ټولنې بنسټونه د ښځو ملاتړ وکړي او په دې توګه د هڅونې او پوهاوي له لارې په ټاکنو کې د ښځو پراخه ونډه اخیستنه باوري کړي.

دلوی اوبښونکي خدای (ج) په نامه

سرمقاله

د ټاکنو د شفافیت خوندیتابه او د شکایتونو د اورېدنې د کمېسیون مسوولیتونه

د پارلماني ټاکنو وخت هم په رانژدې کېدو دی، حال دا، چې په دې لاره کې پرتې ستونزې او خنډونه لا هماغسې پر خپل ځای پراته دي، د هېواد سیاسي وضعه ورځ تر بلې کړکېچنه کېږي، د ټاکنو د قانون او یو شمېر نورو موضوعګانو په اړه د حکومت او پارلمان ترمنځ ناندرۍ لا حل شوی نه دي. له دې نه اخوا، په دې برخه کې نورې په لسګونو باالفعل او بالقوه ننګونې شته، چې په هېڅ ډول ستر ګې تري نه شو پټولای. د هېواد د امنیتي وضعیت خړپړتیا او د هغو کسانو او اشخاصو له ګډون څخه د ټاکنې د بهیر مصوونیت چې په تېرو لسیزو کې د جنایت په لومو کې ښکېل، د هېواد او ولس د بربادۍ او تباهۍ لامل ګرځېدلي، هغه څه دي، چې په دې اړه تر ټولو ډاګیز بربېنې.

دا ټولو ته جوته ده، چې په تېرو پارلماني ټاکنو کې هم، د هېواد د بربادۍ او د ولس قاتلان یو زیات شمېر معلوم الحالې ستې د ټاکنو د موظفو کمېسیونونو له فلټر څخه تېر او ویې کولای شول، چې د ملت د استازي په توګه د هېواد پارلمان ته لاره ومومي او په پارلمان کې تورو ته سپین او سپینو د تورو جامه ور واغوندي او د قاتلانو او جنایتکارانو لپاره د برئت قانوني سند برابر او تصویب کړي.

په هر حال، اوس چې د ټاکنو د شکایاتو د اورېدنې کمېسیون دې چارې ځان ژمن بولي او غواړي، چې د نوماندانو لېست چاڼ کړي، دغه چاڼ باید لومړی، له هغو په نامه وکیلانو څخه پیل او پلی شي، چې په تېرو پارلماني ټاکنو کې یې هم ځانونه د ولس د استازي په توګه کاندید او له خپل زور او زرو څخه په ګټنې یې وکولای شول، د پارلمان تر دروازو ځانونه ورسوي. که څه هم د شکایتونو کمېسیون وایي، چې د دغه چاڼ په لړ کې یې، د کاندیدانو له ۲۴۰۰ نومونو څخه، ۸۵ تنه ایستلي، خو باید څرګنده کړو، چې دغه چاڼ او فلټر په هېڅ صورت، کافي، بشپړ او منصفانه نه دی. حال دا چې همدا اوس د هېواد پارلمان، ۲۴۰ تنه استازي لري، چې تر نیمایي زیات یې په هغو پخوانیو ډلو ټپلو پورې تړاو لري، چې د ملي او نړیوالو بشري حقونو سازمانونو او ادارو له خوا، پر جنګي جنایتونو، انسان وژنې او په لسګونو نورو جنایتونو باندې تورن شوي دي او له همدغو موجودو استازو څخه، نژدې ټولو د بیا لپاره راتلونکي پارلمان ته ځانونه نوماند کړي دي. پر دې بنسټ، د همدغو استازو د شمېر په پام کې نیولو سره ویلای شو، چې دغه چاڼ هم په سمبولیکه او نمایشي بڼه صورت مونديلی، ځکه که واقعي او بنسټیز وای، باید د هغو کسانو شمېر چې پر بشري ضد جنایتونو باندې تورن دي، تر دې ډېر زیات وای، چې اوسمهال یې د شکایتونو کمېسیون اعلان کړی.

په هر صورت، د پورتنۍ لنډ بحث په پام کې نیولو سره ویلای شو، چې د شکایتونو د کمېسیون پرونې پرېکړه، یوه ښېرنۍ او سرسري پرېکړه ده، چې په هېڅ صورت نه شي کولی د راتلونکو پارلماني ټاکنو مشروعیت او شفافیت خوندي کړي، که د ټاکنو اړوند کمېسیونونه غواړي، چې راروانې ټاکنې په بشپړه توګه رنې او د مشروعیت له ارځه پیاوړې او په کې درغلۍ، ټګۍ او برګۍ لاره و نه لري او راتلونکي پارلمان ته ولس او هېواد ته مخلص، رښتیني او له جنګي جنایتونو سپین کسان لاره ومومي، نو باید تر ټولو مخکې، د دغه بهیر مقدماتي چارې له قانون او د هېواد د موجوده شرایطو په پام کې نیولو سره ترسره او د نوماندانو لېست او سندونه او په دوی پورې اړوند شکایتونه یو ځل بیا له سره په ژوره توګه وڅېړي، ترڅو د هېواد پارلمان ته، چې په هېواد کې تر ټولو لوړه تقنیني مرجع ګڼل کېږي، د هغو کسانو د تګ مخه ونیول شي، چې په خپله پر ناقانوني او بشري ضد جنایتونو تورن او د خپلو همدغو جنایتونو او ناکردو لپاره له همدغې لوړ قانوني مرجع څخه د برئت قانوني سند برابروي.

شکایت سفارت ایران از بشردوست، مداخله در امور افغانستان است

شماری از تحلیگران سیاسی و حقوقدانان، شکایت سفارت ایران را به لوی څارنوالی افغانستان در مورد اظهارات داکتر رمضان بشردوست، مداخلهٔ آشکار ایران در امور کشور می دانند.

سفارت ایران حدود دوهفته قبل، گفته های داکتر بشردوست نمایندهٔ مردم کابل در ولسی جرگه را تهدید و اهانت به مقام ها و دیپلومات های آن کشور خوانده، شکایت نامه یی عنوانی لوی څارنوالی افغانستان، ارسال نموده است.

و اما بشردوست دیروز در این مورد گفت که سفارت ایران، حرف های وی را درست تفسیر نکرده است. وی ا فزود: "من گفته ام که هر گاه قدرت به دست من بیاید، کشورهایی که چه ایرا ن، فرانسه ، آلمان و امریکا باشد، اگر یک قطرهٔ خون افغان را بریزاند، به عوض باید ده قطرهٔ خون شان ریختانده شود." وی همچنان یادآور شد که گفته است، زمانی که طالبان دیپلوماتان ایرانی را به قتل رساندند، حکومت ایران نتوانست، طالبان را مورد پیگیرد قانونی قرار دهند. به تاریخ ۱۷ اسد ۱۳۷۷ ده تن دیپلومات و یک خبرنگار ایران، در نتیجهٔ حملهٔ طالبان بالای قونسلګری آن کشور در مزار شریف، به قتل رسیدند.

بشردوست خاطرنشان کرد که مطابق قانون اساسی کشور، نمایندهٔ مردم حق دارد، تا از ملت خود دفاع کند. محمدهاشم صافی سخنګوی لوی څارنوالی افغانستان، در این مورد گفت که حدود دو هفته قبل، بر خلاف اصول دیپلوماتیک، شکایت نامه یی از جانب سفارت ایران در مورد اظهارات داکتر رمضان بشردوست نمایندهٔ مردم کابل در ولسی جرگه، به این اداره رسیده است. وی این اقدام سفارت ایران را خلاف اساسات دیپلوماتیک خوانده، افزود که لوی څارنوالی در پاسخ شکایت نامه، از سفارت ایران خواست، تا طبق اصول دیپلوماتیک، این تقاضایش را با وزارت امور خارجهٔ جمهوری اسلامی افغانستان شریک سازد.

درعین حال، شماری از حقوقدانان کشور نیز، چنین عملکرد دولت ایران را مداخلهٔ آشکار در امور افغانستان می پندارند.

نصر الله ستانکزی استاد حقوق و علوم سیاسی در پوهنتون کابل می گوید که ارسال شکایت نامه از سوی سفارت ایران به لوی څارنوالی افغانستان، مداخلهٔ آشکار در امور کشور می باشد.

وی افزود که یگانه مرجعی که سفارت خانه ها می توانند با آن ارتباط داشته باشند، وزارت امور خارجه است. انجنیر محمدیونس فکور تحلیلګر امور سیاسی، عملکرد سفارت ایران را خلاف عرف دیپلوماتیک خواند.

وی افزود: "ایرا ن پایش را از ګلیم دیپلوماسی و همسایه ګی، خیلی بیشتر دراز کرده است."

همچنان عبدالغفور لیوال رییس مرکز مطالعات منطقه یی افغانستان، ضمن اینکه اقدام سفارت ایران را مداخله در امور کشو ر می داند، به این باور است که حکومت ایران اعتبارش را با اعدام افغان ها و برخورد نادرست با مهاجران افغان، از دست داده است.

وی با آنکه انتقام جویی را درست نمی داند، اما می گوید که در ایران شخصیت های ملی افغانستان به تمسخر گرفته شده و به آنها هتک حرمت صورت می گیرد و در این موارد، کتاب ها نوشته شده است.

با این حال، یک منبع سفارت ایران که از گفتن نامش خودداری کرد، در تماس به آژانس خبری پژواک شکایت از داکتر رمضان بشردوست را به لوی څارنوالی کشور تایید کرد.

وی گفت که سفارت ایران به دنبال تهدید به قتل دیپلوماتان ایرانی که از طریق یک تلویزیون خصوصی صورت گرفت، یادداشتی را به وزارت امور خارجهٔ افغانستان نیز، تسلیم کرده است.

منبع افزود که رمضان بشردوست در واکنش به اعدام شماری از افغان ها در ایران، در گفتگو با تلویزیون خصوصی افغان، دیپلوماتان ایرانی در افغانستان را تهدید به مرگ کرده است. وی خاطر نشان کرد که بشردوست در این گفتگوی تلویزیونی، از عمل طالبان مبنی بر قتل دیپلوماتان ایرانی در مزارشریف یادآوری نموده، آن را تایید کرده و گفته است که طالبان کار درستی انجام داده اند.

موصوف این گفته ها را خلاف کنوانسیون ۱۹۶۱ ویانا که در مورد مصئونیت دیپلوماتان می باشد، دانست. منبع در مورد اینکه سفارت ایران، شکایت نامهٔ شان را به وزارت امور خارجه نه، مستقیما به لوی څارنوالی افغانستان تسلیم کرده گفت: "من در این مورد سکوت می کنم. " در عین حال، احمدظاهر فقیری سخنګوی وزارت امور خارجه نیز، این اقدام سفارت ایران مقیم کشور را نادرست خواند.

وی در این خصوص می گوید: " ایجاب می کرد که موضوع از طریق وزارت خارجه تعقیب می شد." فقیری علاوه کرد که تا کنون هیچ درخواستی مبنی بر شکایت از داکتر رمضان بشردوست نمایندهٔ مردم در ولسی جرگه، به وزارت خارجه مواصلت نکرده است.

جرګهٔ صلح مشورتی، امیدی به ثبات و آرامی افغانستان!

محمداحسان پنجشیری

جرګهٔ مشورتی صلح یکی از جرګه هایی است که برای برګزاری آن تلاش های زیادی صورت گرفت و نیز، هزینه های سنګینی برای آن در نظر گرفته شده است. با اینکه طرح این جرګه در کنفرانس بین المللی لندن ارایه گردید، این جرګه را یکی از مهمترین راهکارهای صلح دانسته بود، قرار بود، این جرګه یک ماه پیش برګزار گردد، اما با توجه به ابهاماتی که این جرګه برای امریکا و دیګر کشورهای غربی داشت، به مدت یک ماه به تأخیر افتاد، آقای حامدکرزی در سفری که به امریکا داشت، تلاش کرد، از این جرګه، تصویر شفاف و روشنی ارایه دهد، تا مقبول کشورهای غربی گردد، کرزی توانست، موافقت امریکا را برای اصل برګزاری جرګه کسب نمایند که قرار است، هیلری کلنتن نیز، در این جرګه شرکت کند، اما شرایطی را رییس جمهور امریکا برای مذاکره با طالبان ګذاشته است و آن اینکه آن دسته از اعضای طالبان که به پروسهٔ صلح می پیوندند باید، ارتباط شان را با القاعده قطع کنند، از خشونت علیه افغانستان دست بکشند و قانون اساسی افغانستان را محترم شمارند، یک جایګاه شرافتمندانه در اجتماع افغانستان برای خودشان باز کنند و همچنین این افراد به حقوق بشر احترام ګذاشته و آن را به ص۳

جرګهٔ صلح مشورتی، امیدی...

رسمیت بشناسند.

با همه چالش هایی که فراروی این جرگه قرار دارد، امیدواری هایی نیز، وجود دارد. مهمترین امیدواری یی که در این زمینه وجود دارد، این است که این گونه تلاش ها شاید بتوانند، از گسترش دامنهٔ خشونت ها بکاهد و بخشی از گروه طالبان از خشونت دست برداشته و تشویق شده از حملات، انفجارات، ناامنی ها و همچنان از برده گی و غلامی کشورهایی که مخالف نظام سیاسی، اجتماعی و اقتصادی افغانستان هستند، دست کشیده به دامن صلح، ثبات و آشتی باز گردند و این تنها امیدواری یی است که به برگزار کننده گان و دیگر ملت افغانستان انگیزه بخشیده و تمام مردم را در این راستا امیدوار ساخته است .

فاروق وردک مسوول برگزاری این جرگه با توجه به این امیدواری ها می گوید: اگر بخواهیم، به صورت مشخص بیان نماییم که هدف از جرگهٔ مشورتی صلح چیست، می تواند، این گونه از سخنان مسوولان برداشت نمود که تا کنون تعریفی از اینکه مخالفان مسلح افغانستان چه کسانی هستند، در این نشست سه روزه باید مشخص شود که به چند دسته تقسیم می شوند، با کدام گروه از آن ها می توان صحبت کرد، با کدام نمی توان او تأکید می کند، من به حیث یک افغان که در این خاک بوده ام و هستم می گویم، تعریف طالب امروزی با طالب هشت نه سال پیش، از زمین تا آسمان تفاوت دارد، اگر نه سال پیش شما با یک طالب صحبت می کردید، معلوم بود، با چه کسی صحبت می کنید و پیام تا آخرین رده های طالبان می رسید. اما امروز این طور نیست. در هر ده و هر کیلومتر از جایی که ناامن است، هرکس که با دزد است، با مخالف است، با عمال بیگانه است، اگر با کسی صحبت کنید، این صحبت به رده های بالاتر منتقل نمی شود. هدف از جرگه دعوت از کسانی برای صلح است که به دلایل مشکلات و عقده های به صفوف طالبان پیوسته اند. در این شکی نیست که مخالفان مسلح توانسته اند، با حملات و انفجارات، مردم مظلوم و بیگناه ما را قربانی نمایند و مردم را دچار رعب و وحشت نمایند. اما نیروهای امنیتی کشور اعم از وزارت دفاع، وزارت داخله و ریاست عمومی امنیت ملی این اطمینان را به مردم افغانستان داده اند که آن ها به خاطر حفظ جان، مال و همچنان به خاطر تأمین امنیت جرگهٔ مشورتی تلاش بیش از پیش نموده و از هیچ گونه ایثار و فداکاری دریغ نمی ورزند. به هر حال، با همه امیدواری هایی که به این جرگه وجود دارد و این امیدواری را به وجود آورده است که این جرگه بتواند، بخشی از افراد و قوماندانان طالبان را از صفوف طالبان جدا سازند و این گروه را تضعیف نموده و خشونت ها را کاهش دهد، تا باشد مردم افغانستان در سایهٔ رفاه و آسایش زنده گی مرفه و با ثبات داشته باشند. و انشاءالله

تلاش برای پایان تنش...

شوهرش است. ارزش ثروت او بالغ بر ۱/۵ میلیون پوند است.

۱۷) اون پاترسون- وزیر امور ایرلند شمالی پاترسون کسب و کاری پرمنفعت در بازار املاک و خرید و فروش و رهن و اجاره دارد. ثروت او به ۱/۵ میلیون پوند می رسد.

۱۸) چریل گیلن- وزیر امور ولز گیلن دختر یک افسر ارتش است که ۳ خانه دارد. ارزش دارایی او به ۱/۵ میلیون پوند می رسد.

۱۹) کنت کلارک- وزیر عدلیه

کلارک که وزیر سابقهٔ کابینه بریتانیاست، در شرکت هایی چون بریتیش پترولیوم و دیاگو سهام دارد. ثروت او به یک میلیون پوند می رسد. او در ناتینگهام شایر خانه یی به ارزش ۵۰۰ هزار پوند دارد.

۲۰) سرجورج یانگ- رهبر مجلس عوام او یک اشراف زاده با ثروت یک میلیون پوندی است.

۲۱) یان دانکن اسمیت- وزیر امور کار و تقاعد:

دانکن اسمیت، رهبر سابق حزب محافظه کار، صاحب یک میلیون پوند ثروت است. اما او این ثروت را مدیون همسرش است؛ زیرا بخش عمدهٔ این ثروت را همسرش به دست آورده است.

۲۲) مایکل گاو - وزیر تعلیم او از دستیاران نزدیک کامرون است و یک میلیون پوند ثروت دارد. درامد سالانهٔ او از روزنامه نگاری و نگارش کتاب ۷۰ هزار پوند است.

۲۳) لیام فاکس- وزیر دفاع دکتر فاکس با ثروت یک میلیون پوندی، یکی دیگر از وزرای کابینهٔ بریتانیاست که چند خانه دارد.

زورواکي جنایتکاران به...

په دغې کومېټې کې د کورنیو چارو او دفاع وزارتونه، د ملي امنیت د ریاست او د ټاکنو د کمېسیون استازي برخه لري.

ښاغلي رفعت وویل د دغې کومېټې د پلټنو چارې پای ته رسېدلې او د څه باندې ۲۴۰۰ نوماندانو له ډلې څخه یې ۸۵ تنه تورن کړي، چې له ناقانونه وسلوالو ډلو سره اړیکي لري.

هغه وویل تورنو کسانو ته وخت ورکول کېږي، چې د ټاکنو په کمېسیون کې د څان سپیناوی وکړي.

د چارواکو په وینا که چېرته دا زباد شوه، چې دغو کسانو له ناقانونه وسلوالو سره اړیکي، درلودل نو د ولسي جرګې د نوماندانو له نومړو څخه به یې نومونه وایستل شي او د نوماند په توګه په ټاکنو کې برخه نه شي اخیستلای.

د ټاکنیزو شکایتونو کمېسیون وایي، د نوماندانو په اړه د شویو شکایتو دا رزونو پایلې به د غبرګولي له ۲۰ وروسته څېړې کړي.

دغه راز هغه دا هم و نه ویل، چې د تورونو کسانو په ډله کې داوسنی ولسي جرګې کوم استازی هم شته او که نه، ځکه د پېړی استازو بیا ځانونه نومولي دي. د بي بي سي د راپور له مخې، دا مهال داسې نیوکې شته چې په اوسنی ولسي جرګه کې یو شمېر استازو د نومېړي لمریزې لسیزې کورنیو جګړو کې لاس درلود او ویل کېږي چې له بشري حقونو څخه یې سرغړونې کړې دي.

داسې کړه شوهد شته، چې ایران...

پرورځ په کابل کې یوې خبري ناستې ته وویل، دوی له نړیوالې ټولنې سره په ګډه دافغان حکومت د دغو هڅو ملاتړ کوي.

ښاغلي سیدویل د چهارشنبې پرورځ پیلبدونکې د سولې مشورتي جرګه د افغانانو لپاره مهمه وبلله او زیاته یې کړه دوی په افغانستان کې د سولې او تیکاو دراتلو لپاره د هر ډول اقدام ملاتړ کوي: ((دا د افغانستان لپاره یوه مهمه اونۍ ده، په دې اونۍ کې به د سولې مشورتې جرګه وشي، چې په تېرو څو کلونو کې د خپل ډول له مهمو سیاسي هڅو څخه یوه ده.))

ښاغلي سیدویل وایي، د امریکا په مشرۍ نړیواله ټولنه د افغان حکومت د سولې او پخلاینې د هڅو ملاتړ کوي. د سولې په مشورتي جرګه کې به څه کم دوه زره کسان ګډون کوي او پردې به خبرې کوي چې له مخالفانو یا طالبانو سره د خبرواترو او سولې میکانیزم جوړ کړي.

خو ښاغلي سیدویل افغانستان ته د سولې په راتګ کې د پاکستان ونډه مهمه وبلله او دا یې هم وویل، چې افغانستان او پاکستان دواړه د ترهګرۍ له ورته ګواښ سره لاس و ګرېوان دي.

هغه د پاکستاني امنیتي ځواکونو له لوري د افغان طالبانو د ځینو مشرانو نیولو په اشاره سره وویل، دا مهمه نه ده چې څوک چېرته نیول کېږي، بلکې ارزښت نیول شوی تن لري.

برګ متال به بېرته ونیول شي...

خو اوس دوی غواړي، چې هلته د ملي اردو ځواکونه هم ځای پر ځای شي، ځو دا ولسوالي په بشپړه توګه خوندي شي. په داسې حال کې، چې بناغلي بشري له دې ولسوالي د پولیسو د په شا کېدو اصلي علت د عامه خلکو د مرګ ژوبلې مخنیوی ښیي، خو کتونکي بیا وایي، چې پولیسو ته په وخت سره د مرستې نه رسېدل د دې لامل شو، چې دا ولسوالي د وسلوالو لاس ته پرې وځي.

خو ښاغلي بشري وویل، چې دوی په سیمه کې پولیسو ته، چې له تېرو ځو ورځو راهیسې د مقاومت په حال کې وو، په خپل وخت مرسته رسولې وه.

دازادي راډیو د راپور له مخې، جنرال امرالله امان دا خبرداری هم ورکړ، که چېرې حالت همداسې دوام وکړي او حکومت د هېواد سرحدي سیمو ته جدي پام ونه کړي، نو ممکن نورې سیمې هم له ورته برخلیک سره مخ شي. د کتونکو په وینا په افغانستان کې د سرحدي سیمو د خوندي کولو لپاره افغان دولت ته په کار ده، چې دغه سیمې لا پیاوړې کړي، ځو له بهره د وسلوالو د راتګ مخنیوی وشي.

جنګ افغانستان حقیقتی...

افزایش است، توجیهی بیابد.

البته این موضوع که افغانستان درگیر جنگ است یک واقعیت است، اما واقعیت پلیدی هم وجود دارد که گفته نمی شود و آن این است که نظامیان این موضوع را می‌دانند که این جنگ نیز مانند جنگ عراق ادامه می یابد، تا جایی که کشتن تبدیل به نوعی تفریح می شود و منجر به تغییر در سربازان و جامعه در روندی به سوی گذشته می شود.

اما نباید فراموش کرد که پس از همهٔ اینها آنهایی که کشته شده اند، دیگر زنده نخواهند شد و خون های خشک شده را بار دیگر نمی توان در بدن کسی به جریان انداخت.

د کونړ پر سیند د اوبو بند جوړېږي

د افغانستان د اوبو او انرژۍ وزارت له یوې ایرانۍ کمپنۍ سره لاسلیک کړی، چې پر اساس به یې د کنړ پر سیند د اوبو یو بند جوړ شي. د اوبو او انرژۍ وزارت سرپرست د یکشنبې پر ورځ په کابل کې یوې خبري غونډې ته وویل، چې د دغه بند په جوړولو به تر درېیو میلیونو امریکایي ډالرو د ولګېږي. تاکل شوې چې وروسته پر دغه بند د برېښنا یوه دستګاه جوړه شي.

په افغانستان کې د اوبو او برېښنا د تولید د بندونو د جوړولو د هڅو په لړ کې، د اوبو او برېښنا وزارت د هېواد په ختیځ کې د اوبو د یوه بند د جوړولو نوی ترون لاسلیک کړ.

د دغه نوي ترون له مخې به کونړ د سیند پر سر د اوبو یو بند جوړ شي او ورپسې به د ګمبیري په دښته کې د برېښنا یو بند جوړ شي.

د افغانستان د اوبو او برېښنا سرپرست وزیر محمد اسماعیل د یکشنبې پر ورځ خبریالانو ته داسې وویل: "د کونړ پر سیند به د شیګې په سیمه کې انشا الله د اوبو یو بند وترل شي او به د ۱۳۵ کیلو متر په واټن د جلال اباد ښار ته ورسوی.

همدارنګه به په ۳۵ کیلو متری کې یو بند جوړ شي، چې ۴۵ میګاواټه برېښنا به تولید کړي، چې کونړ او جلال اباد ته به برېښنا ورکړي."

سرپرست وزیر همدارنګه وویل، چې د اوبو د دغه بند پر جوړولو به د درې میلیونه او یولک امریکایي ډالره ولګېږي.

د دغه وزارت چارواکي وایي، چې تر دې وروسته د برېښنا بند او اوبو لګولو پروژې جوړول په نظر کې دي، چې د دې بر وخت تر څنګ ۴۲۰ میلیونو امریکایي ډالرو ته اړتیا لري.

د ترون پر وخت د توس اب ایرانۍ کمپنۍ یوه استازي وویل، چې دوی به د دې پروژې د ژر بشپړ ېدو لپاره خپلې هڅې کوي: "د بر خوښ یم او مننه کوم، چې دغه ستره ملي پروژه د توس اب شرکت ته وسپارل شوه. مور چمتو یو چې په لږ وخت کې د دې پروژې څېړنه پیل کړو، مور په دې برو ځایونو کې کار کوو، خو په افغانستان کې له کار کولو سره مینه لرو."

د ازادي راډیو د راپور له مخې، د افغانستان د اوبو او برېښنا وزارت ویلي، چې د برېښنا او اوبو د ډېرو بندونو د جوړولو څېړنې روانې دي، چې یو په بل پسې به یې کار پیل کړي.

د عام خلک د دغه وزارت پر کارونو د ډېر انتقادونه کوي، عام خلک او د چارو څېړونکي وایي، چې دغه وزارت په افغانستان کې د اوبو بندونو ته پام نه کوي او د ډېرې اوبه بېځایه کېږي.

همدا رنګه دوی وایي چې د اوبو او انرژۍ وزارت بوازې د هېواد څو سمیو ته برېښنا فعاله رسوي او په نورو سیمو کې د برېښنا د نه شتون له امله سلګونه کمپنۍ بندې دي، چې د خلکو اقتصاد ته یې زیان رسولی او بې کاري یې ډېره کړې ده.

انتقاد ناتو از نیروهای آلمانی و امریکایی به دلیل کشتن غیرنظامیان افغان

ناتو از وزارت دفاع آلمان و نیروی هوایی امریکا به دلیل ارتکاب اشتباهات در خصوص کشتن غیرنظامیان در افغانستان انتقاد کرد. به گزارش اشپیگل آنلاین، یک گزارش سری سازمان ناتو حاکی از آن است که نیروهای آلمانی حاضردر افغانستان در پاره‌یی موارد می‌توانسته‌اند، از کشتن غیرنظامیان جلوگیری کنند.

به نوشتهٔ این روزنامه، براساس گزارش ناتو سربازان وزارت دفاع آلمان می‌توانسته‌اند، از کشتن ۶ سرباز افغان در نزدیکی کندز در تاریخ ۲ اپریل سال جاری ممانعت کنند. به این ترتیب، طبق گزارش تحقیق و بررسی ناتو، آلمان‌ها معلومات مهم و حساسی که در اختیار آن‌ها قرار گرفته است را مورد بررسی دقیق قرار نداده‌اند؛ چرا که سربازان افغان که در حال حرکت به سمت قرارگاه نیروهای آلمانی بوده‌اند، پیشتر در خصوص این اقدام خود به مرکزفرماندهی بلژیک در کندز اطلاع رسانی کرده بودند. با این حال اخبار مخابره شده از مرکز فرماندهی بلژیک که به نیروهای آلمانی ارسال شده است، مورد توجه آنها قرار نگرفته است.

علاوه بر این، این گزارش ضمن انتقاد از اردوی امریکا، مرگ ۲۳ غیرنظامی در جریان حملهٔ هوایی نیروهای امریکایی در ماه فبروری را به شلیک‌های اشتباه و معلومات ناکافی ارجاع می‌دهد. این گزارش از افسران نیروی هوایی امریکا به دلیل ضعف بررسی دقیق شرایط و استفاده از طیاره های بدون سرنشین برای بررسی وقایع در افغانستان شدیدا انتقاد می‌کند. پایگاه هوایی نوادا اعلام کرده است که برخی از مواضعی که توسط نیروی هوایی امریکا در افغانستان مورد حمله و بمباردمان قرار گرفته است، بی‌خطر بوده و تهدیدی ایجاد نمی‌کرده است.

این گزارش همچنین از معلومات غیردقیق، غیرموثق و غیرتخصصی در خصوص مواضع احتمالی طالبان انتقاد می‌کند.

میلیونرها در کابینهٔ بریتانیا

نیلوفر قدیری

کابینهٔ جدید بریتانیا را باید کابینهٔ ۶۰ میلیون پوندی نامید.

دولت ایتلافی دیوید کامرون که با شعار «انصاف» کار خود را آغاز کرده وزرایی دارد که همگی به طبقهٔ میلیونر جامعهٔ بریتانیا تعلق دارند، به همین دلیل، اکنون این اتهام مطرح شده که سکان سیاست در بریتانیا، باردیگر به دست ثروتمندان افتاده‌است.

از ۲۹ وزیر کابینهٔ بریتانیا، ۲۳ تن دارای سرمایه و دارایی‌یی معادل بیش از یک میلیون پوند هستند. خود دیوید کامرون، صدراعظم و رهبر محافظه‌کار هم به طبقهٔ اشراف‌زادهٔ بریتانیا تعلق دارد. او، هم در دوران مکتب و هم در پوهنتون در مؤسسات خاص و مخصوص میلیونرها تحصیل کرده که هر کسی از میان مردم معمولی بریتانیا چنین فرصتی نداشته‌اند. این موضوع اکنون درکانون توجه رسانه‌های بریتانیا قرار گرفته‌است.

دولت قبلی بریتانیا را حزب کارگر بدون شریک رهبری می‌کرد. این حزب همان طور که از اسمش هم پیداست، سیاست‌های حمایتی از طبقهٔ متوسط و ضعیف جامعه را دنبال می‌کرد. اکنون اما ۲حزب شریک در قدرت، یعنی محافظه‌کاران و لیبرال دمکرات‌ها و وزرایی که نمایندهٔ این احزاب در پارلمان و دولت هستند، از طبقهٔ میلیونر هستند.

افکار عمومی بریتانیا نسبت به این موضوع بیشتر حساس شده بود و دلیل آن هم جنجال و رسوایی‌یی است که سال گذشته پیرامون حساب‌سازی نماینده گان پارلمان بریتانیا ایجاد شد. ماجرا این بود که نماینده گان پارلمان از دو حزب کارگر و محافظه‌کار، بسیاری از هزینه‌های شخصی و خانواده گی خود را به حساب دولت و هزینهٔ عمومی می‌گذاشتند. این ماجرا را رسانه‌های بریتانیایی فاش کردند و هنوز تحقیق دربارهٔ آن ادامه دارد.

روزنامهٔ بریتانیایی دیلی‌میل نگاهی تفصیلی دارد به فهرست میلیونرهای دولت جدید بریتانیا و میزان درآمد و سرمایهٔ آنها. در این فهرست، تنها ۶ وزیر درآمدی زیر یک میلیون پوند دارند. این ۶ وزیر نسبتا فقیر وزرای تجارت، صحت، دولت محلی، وزیر مشاور، وزیر مشاور در امور ایالت ها و وزیر امور اسکاتلند هستند که شماره‌های ۲۴ تا ۲۹ را شامل می‌شوند.

۱) لرد استرات‌کلاید- رهبر مجلس لردها

این بارون ۱۰میلیون پوندی یکی از والدینش بلژیکی هستند و از این نظر نیمی بریتانیایی و نیمی بلژیکی خوانده می‌شود، شرکت املاک خانواده گی خود را مدیریت می‌کند. او خانه‌یی ۲/۳میلیون پوندی در وست‌مینیستر دارد.

۲) فیلیپ هاموند وزیر ترانسپورت:

هاموند که پیش از این قرار بود، منصب مهمتری در وزارت مالیه داشته باشد، ۷/۵میلیون پوند ثروت دارد.

او سهامی ۶ میلیون پوندی در شرکت‌های املاک دارد و صاحب خانه‌یی یک میلیون پوندی در وست‌مینیستر است. هاموند همچنین یک خانهٔ ۴۰۰هزار پوندی هم در لندن دارد.

۳) جورج آسبورن- وزیر خزانه‌داری:

او جوانترین وزیر کابینهٔ بریتانیاست و ۴/۶میلیون پوند ثروت دارد. آسبورن صاحب سهامی ۲ میلیون پوندی در شرکت پدرش است و در خانهٔ اجدادی ۲ میلیون پوندی در ناتینگ هیل لندن زنده گی می‌کند.

۴) جرمی هانت- وزیر فرهنگ رسانه و ورزش:

ثروت این وزیر کابینه به بیش از ۴/۵ میلیون پوند می‌رسد. او ۴ خانه در نقاط مختلف بریتانیا دارد.

۵) دیوید کامرون- صدراعظم:

ثروت کامرون به ۴ میلیون پوند می‌رسد. او و همسرش به خانوادهٔ ثروتمندی تعلق دارند و دارایی‌های خانواده گی و شخصی دارند. خانهٔ آنها در لندن بیش از ۲/۷ میلیون پوند ارزش دارد. همسر کامرون مدیر امور خلاقیت و نوآوری یک شرکت بزرگ است که سال گذشته تنها ۳۰۰هزار پوند پاداش دریافت کرده‌است. هر دوی آنها از خانواده‌های ثروتمند شان هم ارث کلانی می‌برند. ارثیهٔ خانوادهٔ دیوید کامرون برای او به بیش از ۳۰میلیون پوند می‌رسد.

۶) کریس هانی- وزیر انرژی و تغییرات آب و هوایی:

او پیش از وزارت روزنامه‌نگار و کارشناس اقتصادی بود و مرد ۹ خانه‌یی لقب داشت. ثروت او به ۳/۵میلیون پوند می‌رسد و چند خانه در لندن و آکسفورد دارد. او همچنین در فرانسه هم یک ویلای تابستانی دارد. همسرش هم در یونان صاحب ملک است.

۷) دومنیک گریو- قاضی:

گریو با ۳میلیون پوند ثروت، در مؤسسات بزرگی چون بانک سلطنتی اسکاتلند سهام دارد. او همچنین صاحب چند خانه است.

۸) فرانسیس ماد- وزیر امور کابینه:

او با ۳ میلیون پوند ثروت در فرانسه و بریتانیا صاحب ملک است. او همچنین در چند شرکت هم سهامدار است.

۹) ویلیام هیگ- وزیر خارجه:

این چهرهٔ جنجالی حزب محافظه‌کار، ۲/۵میلیون پوند ثروت دارد. او از طریق انجام سخنرانی در سال‌های گذشته، ثروت زیادی به دست آورده‌است. او برای هر سخنرانی ۲۵ هزار پوند دریافت می‌کند.

۱۰) اندرو میچل- وزیر امور انکشاف بین‌المللی:

او پیش از ورود به کابینه، یک تاجر و بانکدار بود و اکنون ثروتی معادل ۲ میلیون پوند دارد. ارزش خانهٔ او در لندن، به بیش از ۱/۶ میلیون پوند می‌رسد.

۱۱) دیوید لاوز- وزیر مالیه:

او بخش عمدهٔ ثروت ۲ میلیون پوندی خود را از طریق سرمایه‌گذاری روی ارزش دالر به دست آورده‌است. البته این ثروت او نماد چندانی ندارد و او ملک و دارایی ثبت‌شدهٔ زیادی ندارد. او به‌صورت غیرمستقیم در چند بنگاه و مؤسسه سهامدار است.

۱۲) نیک کلگ- معاون صدراعظم:

کلگ هم مانند شریک ایتلافی خود، کامرون، خانوادهٔ ثروتمندی دارد. ثروت او به ۱/۹ میلیون پوند می‌رسد.

۱۳) دیوید ویلتس- وزیر تجارت، نوآوری و مهارت

ویلتس که همسری هنرمند و معروف دارد، صاحب ثروتی معادل ۱/۹میلیون پوند است. ارزش خانهٔ او به ۱/۳میلیون پوند می‌رسد.

۱۴) ترسا می- وزیر امور زنان و برابری:

ثروت این زن به ۱/۶میلیون پوند می‌رسد.

۱۵) الیور لتوین- وزیر امور کابینه در وزارت داخله:

او یک بانکدار سابق با ۱/۶میلیون پوند ثروت است و خانواده‌یی تحصیلکرده دارد. او در لندن خانه‌یی به ارزش ۸۰۰ هزار پوند دارد.

۱۶) کارولین اسپلمان- وزیر غذا و محیط زیست و امور روستایی

او در گذشته عضو اتحادیهٔ زارعان بریتانیا بوده و صاحب یک شرکت بیوتکنالوژی به همراه ص۳

جنگ افغانستان حقیقتی تلخ، اما ناگفتنی

اشپیگل آنلاین

آنچه نظامیان آلمانی در افغانستان با آن مواجه هستند، جنگی است که ابعاد و ریشه‌های آن آشکار نشده است.

این موضوع که آیا باید نظامیان آلمانی افغانستان را ترک کنند، یا در این کشور باقی بمانند، روز به روز بیشتر مورد توجه قرار می‌گیرد. بر اساس گزارش های تازه، مردم آلمان پس از تجربهٔ تلخی در جنگ جهانی دوم با واژهٔ "جنگ" بیگانه شده بودند و دیگر خواهان قهرمانان نظامی نیستند، اما در شرایط کنونی مفاهیمی مانند "مفقودالاثر"، "زنانی که همسران خود ررا در جنگ از دست داده اند"، "سرباز کشته شده در جنگ" عباراتی هستند که باردیگر در آلمان رایج شده و این در حالی است که دولت امیدوار است، مردم به این موضوع توجه کنند که افغانستان، همانند مرزی برای وطن است. اما مردم آلمان به این مسأله که جنگ یک حقیقت طبیعی است و باید بکشند، تا زنده بمانند و اینکه به وسیلهٔ جنگ و با کشتن افراد می توان جهان امن تری ایجاد کند، اعتقادی ندارند و در این مورد بسیاری از آلمانی ها مخالفت خود را با جنگ افغانستان اعلام کرده اند.

با توجه به این مسأله باید در تبیین ریشه های حضور نظامی آلمان در جنگ افغانستان گفت که این موضوع از حدود ۲۰ سال پیش و از سال ۱۹۹۱ یعنی زمان جنگ عراق (خلیج فارس) شروع شد و با هزینه‌هایی که آلمان در آن زمان متحمل شد و به دنبال آن حضور دوکتوران آلمانی در کامبوج و نیز مشارکت در جنگ های بالکان و کوسوو، هر بار با عناوین گوناگون، تا حضور نظامی در جنگ افغانستان ادامه یافت و سرانجام کار به جایی رسید که هم اکنون "آنگلا مرکل" صدراعظم آلمان دلیل ادامهٔ حضور نظامی در افغانستان را جلوگیری از دستیابی شبه نظامیان طالبان به سلاح اتومی عنوان می کند. اما در واقع مشخص است که او باید برای این جنگ ۸ ساله که هیچ دستاوردی نداشته و ۱۴۰ هزار تن از ۴۳ کشور جهان را برای رویارویی با ۲۵ هزار تن از نیروهای طالبان روانهٔ افغانستان کرده است و علاوه بر این، سالانه بیش از ۲ هزار غیرنظامی را به کام مرگ کشانده که این رقم نیز رو به ص۳

برای نشر اعلانات تان به این شماره ها تماس حاصل نمایید: ۰۷۰۰۲۴۴۳۸۴ / ۰۷۸۶۵۷۴۷۵۷ - ۰۷۰۰۵۹۶۲۰۵ / ۰۷۹۷۸۵۹۰۴۰

اراده ورځپانه یوازې د سرلیکنې ننګه کوي، نورې لیکنې د لیکوال خپل نظر دی، ورځپانه یې مسولیت پر غاړه نه اخلي.

حق الاشتراک :
قیمت یک شماره: (۵) افغانی
سالانه: ۲۰۰۰ افغانی
شش ماهه: ۱۰۰۰ افغانی
برای موسسات و سفارتخانه ها:
سالانه ۳۰۰ دالر امریکایی
شش ماهه ۱۵۰ دالر امریکایی

مرکز نشراتی افغان
روزنامهٔ ملی اراده
موسس و صاحب امتیاز: حاجی سید داؤد
مدیر مسوول : خادم احمد
موبایل :- ۰۷۰۰ ۵۹ ۶۲ ۰۵
Khadem.kabul@yahoo.com
معاون : استاد مرتضی فرحتیار
موبایل :- ۰۷۹۷۲۵۳۱۶۴
Farhatyarm@yahoo.com

ادیتور پشتو: مجیب الرحمن امیري
موبایل :- ۰۷۰۸۸۸۷۰۶۶
دیزاین : نبي "پیاوړی"
همکار تخنیکی: محمدجمیل "احمد"
مسوول توزیع و بازاریابی: عبدالسمیع
۰۷۰۰۲۴۴۳۸۴
erada.daily@yahoo.com
آدرس : دهمزنگ، عقب سینمای بریکوت، سرک اول کارته چهار.
ایمیل: erada.daily@yahoo.com

ERADA DAILY
Afghan Media Resource center
Establisher and Concessionaire: Haji sayed Daud
Editor in chief: Khadem Ahmad
Editor: Farhat yar
Pashto Editor: Mujib Rahman Amiri
Designer: Nabi "Paiwarry"
Address: Behind Baree kout-cinema, first street of karti-e-char
Email: erada.daily@yahoo.com